# Komma, skilletegn og mellomrom- Norsk-Pashto

| Norsk | Pashto |
|---|---|
| 1. **Punktum (.):** Punktum er et tegn som brukes for å markere slutten på et konstaterende utsagn. Tegnet brukes også for å markere forkortelser, og har i tillegg mange forskjellige bruksområder som skilletegn.<br>2. **Apostrofe (’):** Apostrofe brukes vanligvis i norsk for å skille to vokaler (mest i utenlandske navn) og for å vise at en del av et ord er utelatt i dagligtalen.<br>3. **Semikolon (;): Tegnet** inntar en mellomstilling mellom komma og punktum. Semikolon brukes på to måter på norsk: Den ene for å skille mellom to helsetninger; den andre for å skille mellom personer eller annet som ramses opp i en liste, der bruk av vanlig komma vil være forvirrende.<br>4. **kolon (: ):** Kolon er et skrifttegn, hovedsakelig brukt for å innlede et direkte sitat eller utsagn og for å innlede en | **دلیک نښې نښانې:**<br>د لیک دود ، دښه والي په لړ کې ځینې اشارې ، علامې او نښې نښانې هم شته ،<br>چې په هره لیکنه کې دهغو خیال ساتل لازمي او ضروری دی ، بې نښو نښانو لیکنه د لوستونکو د پاره ډیرې ګرانی پیښوی او په ځینو ځایو کی ترې سمه معنې هم نه اخیستل کیږی . له دې کبله غواړو چې دغه نښانې په لنډ ډول بیان کړو ، ترڅو چې<br>دلیک دود لړی نیمګړې پاتې نشی.<br>**-1ټکی (.):** دا نښه د پوره جملو په پای کی ایښودل کیږی او<br>د جملی تمام والی ښیی . لکه : له پروت زمری نه ګرځیده ګیدړښه دی.<br>(متل) نیک عمل د لاری مل دی . دی نښی ته ( تمکۍ) وایو.<br>**-2چپه پیښ (،):** دانښه د یوې لنډې وقفې د پاره پکاریږی ،<br>په یوه کلمه یا جمله کې چی سړی غواړی لږ غوندی ځنډ وکړی ،<br>نو دغه نښه راوړل کیږی.<br>مګر زیاته د کلمواو نیمګړو خبرو ترمنځ دعطف د پاره راځی.<br>لکه : زلمی ، توریالی،تورپیکۍ او ګل مکۍ په امتحان کې بریالی شول.<br>خوشحال خان خټک د پښتو یو لوی شاعر ،ستر ادیب او پوخ مفکر دی ،<br>دی نښې ته ( ټرونۍ) وایو.<br>**-3ټکی او چپه پیښ (؛):** دانښه د زیاتې وقفې دپاره په کاریږی ،<br>مګر د کلمو تر منځ نه راځی ، بلکې د هغو مرکبو جملو په منځ کې<br>راوړل کیږی ، چی په معنی کې یو له بله تړلې وی. |

| | |
|---|---|
| oppramsing eller presisering.<br>Kolon skrives som:<br>• For å si det med Ibsen: «Evig eies kun det tapte.»<br>• Klærne var i mange farger: rød, grønn, gul og blå.<br>5. **Spørsmålstegn (?):** Spørsmålstegnet (?) brukes til å fastslå et spørsmål, og er et grammatisk tegn. Spørsmålet erstatter punktumet i slutten av en spørrende setning, som for eksempel: Hvordan har du det?<br>6. **Utropstegn (!):** Utropstegn er et skrifttegn som brukes for å markere avslutning på utrop og interjeksjoner, oppfordringer og ønsker, samt setninger i imperativ. Sammen med spørsmålstegn og punktum utgjør utropstegn en gruppe av store skilletegn.<br>• Stopp tyven!<br>• Au!<br>• Leve kongen! | لکه : له هغه علم څخه چې اخلاق وسره نه وی ؛ ناپوهی غوره ده . ( رسو)<br>دې نښې ته په پښتو کې ( ځنډ نښه ) وایو.<br>**-4دوه ټکي (:):** دانښه د یوې کلمې یا یوې جملې دسپړنې<br>او ښارنې علامه ده . یعنې د هغې کلمې او جملې په پای کې لیکل کیږی ،<br>چې وروسته ور پسې شرح او تفصیل راځی . دی نښې ته ( څرګندنې ) وایو ،<br>لکه : د ژوندانه د کامیابۍ ستنې دا دی : پوهه ،روغتیا،روزنه او اخلاق.<br>په پښتو کې ډیر لوی شساعران تیر شویدی . لکه : ښکارندوی ،<br>ریدی خان ، خوشحال خان او داسی نور.<br>**-5(؟):** دی نښې ته (تپوسنې) ویلای شو. دانښه د سوال او پوښتنی په وخت کې راوړل کیږی ، یعنې د هر ډول پوښتنیځه (سوالیه ) جملو په پای کې راځې.<br>لکه : بې عمله علم څه په کار دی ؟<br>ددی معنی داسې ده چی ددی په باره کی باید یو بل نفر ځواب ورکړی.<br>لکه هغه وایې : هیڅ په کار ندې.<br>**(!) - 6.**دې نښې ته خوځکۍ. یلای شو . لکه:<br>څنګه چی نورو ژبو کې ورته ( ندایه) وایې.<br>دانښه د غږ او ندا په وخت کې په کاریږی ، لکه : ای ځلمیه ! دلته راشه!<br>مګر په اصل کې د خبر دارۍ او تنبیه نښه ده او په دې وجه<br>د مخاطب امر په اخر کې هم راځې . لکه : وروښو ملاتړ وتړئ<br>!د هیواد ناموس وساتئ!<br>دغه نښه د تعجب ، شاباش او افسوس په ځای کې هم راوړل کیږی ، |

# Komma, skilletegn og mellomrom- Norsk-Pashto

| | |
|---|---|
| 7. **Bindestrek (- ):** En bindestrek (-) er et tegn som brukes til binde sammen orddeler og for å holde sammen et ord delt ved linjeskift.<br>8. Bindestreken forveksles ofte med tankestrek, til-og-fra-strek og replikkstrek (–) samt minustegn (−), som alle er lengre. En bindestrek skal være en kvart gefirtlang.<br>9. **Lik (=):** Tegnet lik (=) representerer samme ting eller verdi. 2+2 = 4<br>10.**Parentes ( ):** Parentes er et skrifttegn i tekst og matematikk. Parentes består av to buer som står på hver side av en del av en tekst. Tegnet uttrykker at den aktuelle delen av teksten er en sidebemerkning, et innskudd eller tillegg.<br>11.**Bueparentes ( ( ) ):** Parentes brukes først og fremst når du kommer med en tilleggsinformasjon. | يعني په هر ځای کي چي خبرداری او تنبيه موخه (غرض) وی ،<br>هلته ورځني کار اخيستل کيږی ، مکر د زيات تعجب او زياتي خبرداری<br>په وخت کی دوه ځله بلکي دری ځله ليکل کيږی . لکه:<br>آفرين ! په دی توره اوميرانه!!<br>افسوس ! چي ډير ښه وخت مي له لاسه و ووت.<br>اوه ځومره ښکلي مرغی ده!!<br>کله چي پوښتنه او تنبيه دواړه مطلب وی ، نو د تپوس او تنبيه نښي<br>دواړه راځي .لکه: دخدای دپاره داڅه حال دی ؟!<br>7- (-) دی نښي ته (بيلني) وايلای شو.<br>لکه څنګه چي په نورو ژبو کی ورته (کش) وايی.<br>دا نښه د يو جملي د بيلوني د پاره ليکل کيږی.<br>په تيره په سوال او ځواب کی د هری جملي په سر کی راځی<br>او سوال او ځواب سره بيلوی . لکه : زلمی وويل :<br>توريالیه څه کوی ؟<br>-خت ليکم<br>-چاته؟<br>-خپل ورور ته.<br>دا نښه د دوو کلمو د بيلوني د پاره هم په داسي وخت کی راځی ،<br>چي هري کلمی خپلواکي او ځانله والي مقصد وی . لکه:<br>صرف ،<br>نحو ، بديع ، بيان معانی او عروض دا ټول ژبنی علمونه دی.<br>8- (=) دوه غبرګ کشونه دی نښي ته (سم سمی) وايو.<br>دا نښه د دوو نومو خبرو د برابری او مساوات ښودلو د پاره راځی.<br>لکه : 4=2+2<br>9- دوه کونتی ختونه ( ) :دي نښي ته لندی وايو. |

| | |
|---|---|
| 12.**Ellipse ( … ):** Ellipse (fra gresk: ἔλλειψις, ellipses, «utelatelse») i språk refererer til hvilken som helst utelatt tale som er forstått, det vil si en markering om at en bevisst utelatelse er foretatt.<br>13.**Asterisk ( * ):** Asterisken brukes til å markere en fotnote eller for å markere noe. I e-post uten HTML-koding, eller andre omstendigheter hvor man sender uformaterte tekstdokumenter, brukes den for å utheve noe, vanligvis på *denne måten*.<br><br>Kilder:<br>https://no.wikipedia.org/wiki/Komma | دا نښه د خاصو نومو، د توجه وړ شیانو او په منځ کې رالویدلو جملو<br>د ښودلو د پاره لیکل کیږی . لکه:<br>زه غواړم سبا ته له زمری سره ( چې زما یو ښه ملګری دی )<br>د کابل موزیم کې وګورم.<br>زما ورور ( ببرک) په خپل ټولګی کې لمړی لمبر زده کونکی دی.<br>-10دوه غبرګې لیندکی: (( )) ددې نښې په منځ کې د بل چا خبره ، نظریه ، دیوکتاب عبارت او یا د زیاتې توجه وړ نا آشنا کلمه راوړل کیږی . لکه سید جمال الدین وایی:<br>))هر پرهیزګار عالم چی د شریعت په باره کې فکر وکړی ،<br>نو دا به ورته معلومه شی ، چی د ژوندانه پوهنې او علمونه له دین سره هیڅ مخالفت نه لری.((<br>په دې ورځو کې د (( مود)) او (( متود )) کلمې ډیرې ګرادنیږی.<br>-11څوټکی (...) نښه: کله چې یو لیکونکی دو یو نوم او یا د یوې خبرې څرګندول نه غواړی ، نو په ځای یې یو څو ټکی ږدی او ورځنې تیریږی.<br>لکه : ماته د پښتو .... ښه معلوم دی.<br>-12درې ستورې (*): دا نښې د یوې رسالې ، یا د یو مقالې ،د یو برخې د تمامیدو او دبلې د پیل کیدو (شروع کیدو) په منځ کې لیکل کیږی ، یعنې یو بحث له بل څخه بیلوی.<br>که چیرې یو نوم یا یو جمله په خاص ډول د پاملرنې وړ وی ، نو لاندې ترې یوه اوږده کرښه راښکل کیږی .<br>لکه: زلمی لو توریالی زما کلک ملګری دی . ښاغلو !<br>دلته دریدل منع دی.<br>یادونه : د چاپ او کتاب د ښایست د پاره ځینې نورې نښانې هم شته ، و هغه زیاتې په چاپ خانو پورې اړه لری |

| | |
|---|---|
| | او په لاسی لیک دود کې ورځني کار نه اخیستل کیږی.<br>کله چې مضمون پای ته ورسیږی ( ختم شی )<br>او د پاڼې لاندې برخه څه قدر سپینه پاتې شی ، نو د<br>رنګینی د پاره لاندې باندې درې کرښې یا درې ستورې<br>یا کومه بله نښه لیکل کیږی او دا د هر چا په ځانله ذوق<br>پورې اړه لری.<br>**سرچيني: پښتو ګرامرمؤلف پوهاند صدیق الله ربښتین.۱۹۹۴پيښور.** |